# د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# وياړلې غړي



## حاجي عبدالرحيم جان کندهاری



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

خدای بخښلی عبدالرحیم جان (کندهاری) د حاجي عبدالرحمن زوی او د محمدحسین خان لمسی په قوم سلیمانخېل د زوکړي نېټه ئې معلومه نه ده، د زوکړي ځای ئې د کندهار په برو بازار کي د صافیانو کوڅه ده. څرنګه چي د عمر په لومړینو کلو کي د پلار د سیوري له نعمته بې برخي سوئ دئ نو دده د کورنۍ روزنه او پالنه دده ماما رئیس صاحب موسی خان چي د کندهار یو نومیالی شخص ؤ، پرغاړه واخیستل. که څه هم د ښوونځی د زده کړو محروم پاته سوئ دئ، خو د ماما په روښانفکره کورنۍ کي ئې کورني معلم او قاری د قرانکریم او کتابت ښوونه ورته کړې وه. اروانباد عبدالرحیم جان یو سپېڅلی مسلمان او هیوادپال شخصیت ؤ. د یوې خوا د رئیس صاحب موسی خان د منوري کورنۍ تربیې او پالني او د بلي خوا د هیواد د سترو نخبه عالمانو او د ښار د نامتو مخورو سره د هغه دوستي او انډیوالي لکه ښاغلو علامه پوهاند عبدالحی حبیبي علیه رحمه، پوهاند علامه رشاد بابا، استاد عبدالرؤف بېنوا، استاد محمدابراهیم خواخوږی، استاد نوراحمد شاکر، محمدرسول پښتون، فیض محمد خان انګار، غلام جیلاني خان (مدیرصاحب)، محترم واسعي صاحب، آغامحمد خان کرزي، محمدعلم بځرکي، عبدالهادي خان بهر،
نماینده صاحب محمدعثمان، استاد محمدعالي خان، محترم عارض صاحب، عبدالرحیم خان هاتف،
خټګر صاحب، محمدنورخان، وکیل صاحب نورمحمدخان او یو زیات شمېر د ښار د سوداګرو او مخورو سره دغه مرحوم ناستي ولاړي دده د پښتني شخصیت په بشپړتیا او هیوادپالني او روحیې په روزنه کي مهمه ونډه او اغېزه لرلي ده. پورته ذکرسوي نخبه ګان چي زیاتره ئې د هیواد د مورني سیاسي ګوند ویښ ځلمیانو موسسین وه، مرحوم عبدالرحیم جان دهغوی ستر حامي او وفاداره دوست ؤ. کله چي د عبدالغني خان ګردېزي د حکومت په ترڅ کي د ویښو ځلمیانو ځني غړي بندیان سول، نو یوازني کسان چي ددغو بندیانو د کورنیو پوښتنه ئې کول، په د همزنګ کي یې د ویښو ځلمیانو پوښتنه او پالنه کول، خو په کندهار کي د بندي ویښو ځلمیانو کورنۍ د یادوسوو درو تنو د خدمت شاکره دي.
عبدالرحیم جان دوه ورونه چي هر یو ئې مرحوم شېراحمدجان (رحماني) او مرحوم آغامحمد (رحماني) دواړه د ویښو ځلمیانو د غورځنګ اصلي غړی وه. د عبدالرحیم جان ښخه (۶) زامن او څلور لوڼي پاته دي. مشر زوی ئې عبدالکریم طالب رحیمي، دوهم ئې عبدالشکور رحیمي، دریم زوی ئې عبدالغفار رحیمي، څلورم زوی ئې عبدالولي رحیمي، پنځم زوی ئې عبدالنبي رحیمي، شپږم زوی ئې عبدالمقیم رحیمي دي. عبدالکریم طالب ئې د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځی د ژورنالیزم لیسانسه دئ چه څه موده د کندهار د مجلې مدیر ؤ. وروسته د کندهار د طلوع افغان د سرمحرر په توګه دنده ترسره کړې ده. او وروستی رسمي ماموریت ئې د کندهار د اطلاعات او کلتور ریاست ؤ. نور ورونه ئې د عالي دارالمعلمین او لېسو فارغین دي چي د کمونیستي انډوخر په اړودوړ کې ئې عالي تحصیلات ونه کړای سول او هجرت ته مجبورسول. لنډه دا چي اروانباد عبدالرحیم جان تقریباً د (۸۵) کالو په عمر د هیواد ښخه د شوروي د سره پوځ د وتلو سره سم د ورپېښې ناروغی له امله د فاني نړی څخه حق ته ځان وسپاره او په کندهار کي په خپله هدیره کي خاورو ته وسپارل سو. اروا دې ښاد وي.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017